AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر

۲۰۲۲/۰۴/۱۰

# د ښځو د لیک لوست اهمیت په اسلام کې

## (دویمه برخه)



## د نجونو زده کړې:

په اسلامي شريعت کې د ښځو او سړيو د زده کړو په اړه کافي ښوونې راغلي دي، له بده مرغه چې يو شمېر سړيو دغه عامې ښوونې د ځان په ګټه تفسير کړي دي او د ښځو حق يې له نظره غورځولی دی، په قرآن کريم او احاديثو کې هغه مطالب لکه ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ «ای مومنانو!» يا هم ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ﴾ «ای خلکو!» يا هغه چې څوک نه وي مشخص شوی په ښځه او نر دواړو پورې تړاؤ لري، په قرآن حکيم کې د ښځو او سړيو د لوست په هکله ښوونې شتون لري چې له هغو څخه يو ځل بيا د قرآن مجيد، د (العلق) سورت چې د ښځو او سړيو د لوستلو احکام په کې راغلي دي وړاندې کوو:
﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ(١) خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ(٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ(۴) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ(۵) ﴾
ژباړه:«ولوله، د خپل رب په نوم، چې [نړۍ يې] جوړه کړه. هغه چې انسان يې له کلکې شوې وينې څخه خلق کړ. ولوله چې ستا رب ډېر مهربان دی. هغه چې د قلم په وسيله يې علم ورکړ. هغه علم يې انسان ته ورکړ، چې نه پرې پوهيده.»
د اسلامي نړۍ ستر عالم ښاغلي ډاکټر ذاکر نايک د پورته آيتونو په تفسير کې د ښځو د زدکړو په هکله ويلي دي:«لومړنۍ ښوونې چې الله (ج) انسانانو ته راوليږلې، هغه د لمونځ، ذکات او روژې په اړه نه وې، هغه ښوونې د لوستلو او ليکلو په تړاؤ وې،﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. ...﴾ او دا ښوونې د ښځو او سړيو، دواړو لپاره وې.»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سربېره پر دې، د نوموړي سورت په پنځم آیت شریف کې یوازې د انسان یادونه شوي ده، ښځه یا سړی نه دي مشخص شوی. ﴿عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾
د قرآن کریم د زمر سورت د نهم آیت شریف په یوه برخه کې د لوستو او نالوستو، (ښځو او نرو) دواړو په برخه کې داسې ویل شوي دي:
﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾
ژباړه:«ووایه: آیا برابر دي هغه کسان چې زده کړې لري او هغه کسان چې نه پوهیږي؟» (زمر: ۹)
هر هغه څوک، که ښځه وي یا سړی چې پوهه (سواد) ولري د خپلې پوهې له امله سترګه ور او روڼ اندی بلل کیږي او هر څه په ښه توګه درکولی شي، دیني او دنیاوي لاربښوونې په ښه توګه تر سره کوي او نورو ته هم ښوونې کوي، هر څوک چې زده کړې ولري نو له امله یې د خدای تعالی له لوري، لویو نعمتونو څخه برخه من دي او هغه چې جاهل وي د ړندو، کڼو او ګنګیانو په څېر دي، جهالت تیاره او علم نور دی، تر هغې چې په دې نړی کې څوک نالوستي او ناپوه پاتې شو، هغه به په اخرت کې هم جاهل وي، قرآن عظیم د پوهانو او جاهلانو په اړه په بېلابېلو بڼو یادونې کړې دي چې څو بېلګې یې وړاندې کیږي:
﴿وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ۝ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ ۝﴾
ژباړه:«ړوند او لیدونکی برابر نه دي. نه تیاره او روښنایي یو شان دي.» (فاطر: ۱۹- ۲۰)

﴿مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ ۚ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا﴾
ژباړه:«مثال د دې دواړو ډلو د ړانده او د کاڼه او لیدونکي، اوریدونکي [دی] آیا برابر دي دغه دواړه؟.» (هود:۲۴)
﴿وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا﴾
ژباړه:«څوک چې په دې نړی کې ړوند پاتې شو، هغه به په اخرت کې هم ړوند او لار ورکی وي.» (اسراء: ۷۲)
د علم د زده کړو، په ځانګړي توګه د ښځو د زده کړو په برخه کې د پیغمبر (ع) له لوري ډېر حدیثونه موږ ته راپاتې دي چې موږ یې یوازې د (سنن ابن ماجه) په دې مبارک حدیث باندې بسنه کوو چې وایي:﴿طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ﴾ ژباړه» د علم زده کړه پر هر مسلمان [ښځه او نر] باندې فرض ده.»
د اسلام په سپیڅلي شریعت کې د ښځو د زده کړو کړنلاره جوته ده چې مسؤلیت یې په لومړي سر کې د هرې کورنی د مشرانو او حکومت په غاړه دی لکه چې الله تعالی فرمایي:
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾
ژباړه:«ای مومنانو! خپل ځانونه او خپله کورنی له هغه اوره وژغورئ چې د سؤن توکي یې انسانان او تیږې وي.» (تحریم:۶)
د نجونو د زده کړو دنده د حکومتونو جدي مسؤلیت دی هغه که هر ډول حکومت وي باید د خپلو خلکو په خدمت کې وي چې په لویه کې د حکومت چارواکي د خپلو وګړو خادمان دي او د کورنیو د مشرانو په څېر حیثیت او مسؤلیت لري، په دې هکله د پیغمبر (ص) حدیثونه شته چې حکومتونه د خپلو خلکو د خدمت کولو مسؤل دي چې په اړه یې د صحیح بخاري د احکامو په کتاب کې څو ځایه یادونه شوي ده چې یوه بېلګه یې داسې ده:«هر بنده ته چې الله (ج) د خپل رعیت مسؤلیت ورپه غاړه کړي او هغه د هغوی په ښوونه او خیر غوښتنه کې غفلت وکړي د جنت بوی به ورته ونه رسیږي.» (صحیح بخاري، کتاب احکام)
۱۴۰۱/۱/۲۱ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څېر و لولئ